## دافغانستان اسلامی جمهوریت

## دعدلیی وزارت

# رسمی جریده

- دافغانستان داسلامی جمهوریت درئیس فرمانونه
- دعسکری منسوبینو د تنفیذی حبس د تیرولو د ډول مقرره
- دشپی لوړو زده کړو دمقرری په پنځلسمه ماده کی تعدیل او ایزاد

- فرامـــین رئیس جمهوری اســـلامی افغانستان
- مقرره طرز سپری نمودن حبس تنفیذی منسوبین عسکری
- تعدیل و ایزاد در ماده پانزدهم مقرره تحصیلات عالی شبانه

دجریدو نیټه د ۱۳۹۱هـ ش کال دوړی دمیاشتی (۱۱) پرله پسی نمبر (۱۰۸۶)

تاریخ نشر : ( ۱۱)سنبله سال ۱۳۹۱ هـ ش نمبرمسلسل (۱۰۸۶)

## در این شماره :


۱. فرمان شماره(۱۱۴) مورخ ۱۳۹۰/۱۲/۱۷ رئیس ج .ا.ا در مورد تقرر (۹) تن از وزرای کابینه ج.ا.ا (۱-۲)
۲. فرمان شماره (۲۷) مورخ ۱۳۹۱/۳/۱۷ رئیس ج.ا.ا در موردتوشیح ایزاد جزء (۱۱) در ماده (۴۱) قانون کار صفحه (۳-۷)
۳. فرمان شماره (۳۲) مورخ ۱۳۹۱/۳/۲۲ رئیس ج.ا.ا در مورد توشیح مصوبه شماره (۳۷) مورخ ۱۳۹۱/۳/۱۳ ولسی جرگه شورای ملی صفحه (۸-۱۰)
۴. فرمان شماره (۳۵) مورخ ۱۳۹۱/۳/۲۸ رئیس ج.ا.ا درموردتوشیح تعدیل فقره (۳) ماده (۶۳) قانون مبارزه علیه مسکرات وموادمخدروکنترول آن صفحه (۱۱-۱۴)
۵. فرمان شماره (۵۸) مورخ ۱۳۹۱/۶/۶ رئیس ج.ا.ا در مورد توشیح تعدیل مجدد فقره (۱) ماده (۱۶) قانون مراکز اصلاح وتربیت اطفال صفحه (۱۵-۱۸)
۶. فرمان شماره (۵۹)مورخ ۱۳۹۱/۶/۶ رئیس ج.ا.ا درمورد توشیح تعدیل برخی از مواد قانون محابس وتوقیف خانه ها صفحه (۱۹-۲۳)
۷. مصوبه شماره (۹) مورخ ۱۳۹۱/۳/۱ شورای وزیران ج.ا.ا. درمورد انفاذ مقرر طرز سپری نمودن حبس تنفیذی منسوبین عسکری صفحه (۲۴-۲۸)
۸. مصوبه شماره (۲۱) مورخ ۱۳۹۱/۵/۱۶ شورای وزیران ج.ا.ا در مورد انفاذ تعدیل و ایزاد در ماده پانزدهم مقرره تحصیلات عالی شبانه صفحه (۲۹-۳۱)



**د امتیاز خاوند : دعدلیې وزارت**

مسؤل چلوونکی : قانونمل محمدرحیم :دقیق:

۰۷۰۰۵۸۷۴۵۷

ددفتر تیلفون : ۲۱۰۳۳۷۵

مرستیال : نور علم ۰۷۰۰۱۴۷۱۷۸

مهتمم: محمدجان ۰۷۰۰۳۹۵۲۹۲

ویب سایت : www.moj.gov.af

قیمت این شماره : ........................... . .. ........(۳۰) افغانی

تیراژ چاپ اول :............................... . . ........(۳۰۰۰)جلد

آدرس :وزارت عدلیه ، ریاست نشرات ، چهارراهی پشتونستان ، کابل

**د افغانستان اسلامي جمهوريت دكابينې د (۹) تنو وزيرانو د مقررېدو په هكله، د افغانستان د اسلامي جمهوريت د رئيس فرمان**

گڼه: (۱۱۴)

نېټه: ۱۳۹۰/۱۲/۱۷

د متعال خداى (ج) له دربار څخه د مرستې په غوښتنې سره او د افغانستان د خلكو د نېكمرغۍ په هيله، د افغانستان اسلامي جمهوريت دكابينې د نهو تنو وزيرانو د تأييد په اړه، د هېواد داساسي قانون د (۶۴) مادې د (۱۱) فقرې د حكم او دملي شورې د ولسي جرگې د ۱۳۹۰/۱۲/۱۵نېټې (۲۳) گڼه تصويب له مخې، له ۱۳۹۰/۱۲/۱۵ نېټې څخه اعتبار د هغوى مقررېدل، په لاندې ترتيب منظوروم:

۱- ښاغلى انجينر اميرزى سنگين، د مخابراتو او معلوماتي تكنالوژۍ وزير.

۲- ښاغلى سترجنرال اسماعيل خان، د انرژۍ او اوبو وزير.

۳- ښاغلى پوهاند داكتر عبيدالله عبيد، د لوړو زده كړو وزير.

۴- ښاغلى داكتر حسن عبدالهي، د ښار جوړولو د چارو وزير.

**فرمان رئيس جمهوری اسلامی افغانستان دربارهٔ تقرر (۹) تن از وزرای كابينهٔ جمهوری اسلامی افغانستان**

شماره: (۱۱۴)

تاريخ: ۱۳۹۰/۱۲/۱۷

با طلب استعانت از بارگاه خداوند متعال و آرزوی سعادت مردم افغانستان، به تأسی از حكم فقرهٔ (۱۱) مادهٔ (۶۴) قانون اساسی كشور و تصويب شماره (۲۳) مؤرخ ۱۳۹۰/۱۲/۱۵ ولسی جرگه شورای ملی، مبنی بر تأييد نه تن از وزرای كابينهٔ جمهوری اسلامی افغانستان تقرر شانرا اعتبار ازتاريخ ۱۳۹۰/۱۲/۱۵، به ترتيب ذيل منظور می نمايم:

۱- محترم انجنير اميرزی سنگين، وزير مخابرات و تكنالوژی معلوماتی.

۲- محترم سترجنرال اسماعيل خان، وزير انرژی و آب.

۳- محترم پوهاند داكتر عبيدالله عبيد، وزير تحصيلات عالی.

۴- محترم داكتر حسن عبدالهی، وزير امور شهرسازی.

۵- آغلې داکتر حسن بانو غضنفر، د ښځو د چارو وزيره.
۶- آغلې داکتر ثريا دليل، د عامې روغتيا وزيره.
۷- ښاغلی انجينر نجيب الله اوژن، د فوايد عامې وزير.
۸- ښاغلی داکتر داود علـــي نجفـــي، د ترانسپورټ او هوايي چلند وزير.
۹- ښاغلی انجينر ويس برمک، د کليو د بيارغونې او پرمختيا وزير.
د متعال خدای(ج) له درباره، د هيواد د نافذو قوانينو په رڼاکې د وطن او خلکـــو د خدمت په لاره کې، د ښـــاغلو وزيرانـــو د لازياتو برياوو غوښتونکی يم.
دغه فرمان د توشيح له نېټې څخه نافذ او په رسمي جريده کې دې، خپور شي.

**حامد کرزی**

**د افغانستان د اسلامي جمهوريت رئيس**

۵- محترمه داکتر حسن بانو غضنفر، وزير امور زنان.
۶- محترمه داکتر ثريا دليل، وزير صحت عامه.
۷- محترم انجنير نجيب الله اوژن، وزيـــر فوايد عامه.
۸- محترم داکتر داود علی نجفی، وزيـــر ترانسپورت و هوانوردی.
۹- محترم انجنير ويس برمک، وزير احياء و انکشاف دهات.
از بارگاه خداوند متعال توفيقات مزيد وزرای محترم را در راه خدمت به وطن و مـــردم، در پرتو قوانين نافـــذۀ کـــشور مـــسئلت می نمايم.
اين فرمان از تاريخ توشيح نافذ و در جريدۀ رسمی نشر گردد.

**حامد کرزی**

**رئيس جمهوری اسلامی افغانستان**

د کار د قانون په (۴۱) ماده کې د
(۱۱) جزء د ایزاد د توشېح
په هکله، د افغانستان د اسلامي
جمهوریت د رئیس
فرمان

ګڼه: (۲۷)

نېټه: ۱۳۹۱/۳/۱۷

لومړۍ ماده:

د افغانستان د اساسي قانون د (٦۴) مادې د (۱٦) فقرې د حکم له مخې، د کار د قانون په (۴۱) ماده کې د (۱۱) جـزء ایزاد چې د ملي شوري د ولسي جرګې د ۱۳۹۱/۲/۳۱نېټې د (۳٦) ګڼـې او د مشرانو جرګــې د ۱۳۹۱/۳/۷نېټــې د (۳۲) ګڼې مصوبو پربنسټ، ( د وړې ۱۸ د ملي اتل احمد شاه مسعود د شــهادت ورځ او د افغانــستان د شـــهیدانو ورځ عمومي رخصتي) تصویب شوې، توشـــېح کوم.

فرمان
رئیس جمهوری اسلامی افغانستان
در مورد توشیح ایزاد جزء
(۱۱) در مادۀ (۴۱)
قانون کار

شماره: (۲۷)

تاریخ: ۱۳۹۱/۳/۱۷

مادۀ اول:

به تأســی از حکـــم فقـــرۀ (۱٦) مـــادۀ (٦۴) قانون اساسی افغانـــستان، ایـــزاد جزء (۱۱) در مادۀ (۴۱) قانون کـــار را که براســـاس مـــصوبات شـــماره (۳٦) مؤرخ ۱۳۹۱/۲/۳۱ ولـــسی جرگـــه و شـــــماره (۳۲) مـــــؤرخ ۱۳۹۱/۳/۷ مشرانو جرگه شورای ملی (۱۸ ســـنبله روز شهادت احمد شاه مسعود قهرمـــان ملی و روز شهدای افغانـــستان رخـــصتی عمومی) به تـــصویب رســـیده، توشـــیح می دارم.

**دوه يمه ماده:**

دغه فرمان له ايزاد او د ملي شوري لــه مصوبو سره يوځای دې په رسمي جريده کې خپور او د خپرېدو له نېټې څخه دې نافذ شي.

**حامد کرزی**

**د افغانستان داسلامي جمهوريت رئيس**

**مادهٔ دوم:**

ايـــن فرمـــان همـــراه بـــا ايـــزاد و مـــصوبات شـــورای ملـــی در جريـــدهٔ رسمی نـــشر و از تـــاريخ نـــشر نافـــذ گردد.

**حامد کرزی**

**رئيس جمهوری اسلامی افغانستان**

د افغانستان اسلامي جمهوريت

ملي شوري

ولسي جرگه

مصوبه

د کار د قانون په (۴۱) ماده کې د (۱۱) جزء ایزاد

گڼه: (۳۶)

نېټه: ۱۳۹۱/۲/۳۱

د افغانستان د اساسي قانون د نوي يمې مادې له حکم سره سم، ولسي جرگې د ۱۳۹۱ کال د غويي د مياشتې د ۳۱ نېټې په عمومي غونډه کې د کار د قانون په (۴۱) ماده کې د (۱۱)جزء ايزاد په دې متن (د وړي ۱۸ د ملي اتل احمد شاه مسعود د شهادت ورځ او د افغانستان د شهيدانو ورځ عمومي رخصتي) تصويب کړ.

عبدالرووف "ابراهيمي"

د ولسي جرگې رئيس

جمهوری اسلامی افغانستان

شورای ملی

ولسی جرگه

مصوبهٔ

ایزاد جزء (۱۱) در مادهٔ (۴۱) قانون کار

شماره: (۳۶)

تاریخ: ۱۳۹۱/۲/۳۱

به تأسی از حکم مادهٔ نودم قانون اساسی افغانستان، ولسی جرگه طی جلسهٔ عمومی مؤرخ ۳۱ ماه ثور سال ۱۳۹۱ خویش ایزاد جزء (۱۱) در مادهٔ (۴۱) قانون کار را به متن (۱۸ سنبله روز شهادت احمد شاه مسعود قهرمان ملی و روز شهدای افغانستان رخصتی عمومی) به تصویب رسانید.

عبدالرووف "ابراهیمی"

رئیس ولسی جرگه

د افغانستان اسلامي جمهوریت

ملي شوري

مشرانو جرگه

دتقنیني شپاړسمې دورې دوه یم کال

مصوبه

د کارد قانون په یوڅلوېښتمه ماده کې

د (۱۱) جزء د ایزاد په هکله،

گڼه: (۳۲)

نېټه: ۷/ ۳/ ۱۳۹۱

د افغانستان د اساسي قانون د نوي یمې مادې له حکم سره سم، مشرانو جرگې د ۷/ ۳/ ۱۳۹۱ نېټې په عمومي غونډه کې د کار د قانون په یو څلوېښتمه ماده کې د (۱۱) جزء ایزاد په دې متن (د ورځي ۱۸ د افغانستان د شهیدانو ورځ او د ملي اتل احمد شاه مسعود د شهادت ورځ عمومي رخصتي) د رأیو په اکثریت تصویب کړ.

الحاج محمد علم " ایزدیار "

د مشرانو جرگې لومړی نایب

جمهوری اسلامی افغانستان

شورای ملی

مشرانو جرگه

مصوبهٔ

سال دوم دورهٔ شانزدهم تقنینی

در رابطهٔ ایزاد جزء (۱۱) در مادهٔ چهل ویکم قانون کار

شماره: (۳۲)

تاریخ: ۱۳۹۱/۳/۷

به تأسی از حکم مادهٔ نودم قانون اساسی افغانستان، مشرانو جرگه در جلسهٔ عمومی مؤرخ ۱۳۹۱/۳/۷ ایزاد جزء (۱۱) در مادهٔ چهل ویکم قانون کار را به متن (۱۸ سنبله روز شهدای افغانستان و روز شهادت احمد شاه مسعود قهرمان ملی رخصتی عمومی) به اکثریت آراء تصویب نمود.

الحاج محمد علم "ایزدیار "

نایب اول مشرانو جرگه

## د کار د قانون په يو څلوېښتمه ماده کې د (۱۱) جزء ايزاد

لومړۍ ماده:

د ۱۳۸۷د ليندۍ د ۱۵ نېټې په (۹۶۶) گنه رسمي جريده کې خپور شوی د کار د قانون په يوڅلوېښتمې مادې کې دې (۱۱) جزء په لاندې متن ايزاد او د نومورې مادې (۱۱) جزء دې په (۱۲) جزء تصحيح شي:

۱۱- د وږي ۱۸ د ملي اتل احمد شاه مسعود د شهادت ورځ او د افغانستان د شهيدانو ورځ.

## ايزاد جزء (۱۱) در مادهٔ چهل ويکم قانون کار

مادهٔ اول:

جزء (۱۱) در مادهٔ چهل ويکم قانون کار منتشرهٔ جريدهٔ رسمی شماره (۹۶۶) مؤرخ ۱۵قوس۱۳۸۷ به متن ذيل ايزاد و جزء (۱۱) مادهٔ مذکور به جزء (۱۲) تصحيح گردد:

۱۱- ۱۸ سنبله روز شهادت احمد شاه مسعود قهرمان ملی و روز شهدای افغانستان.

**دافغانستان اسلامی جمهوريت**

**د ملي شوري د ولسي جرګې د ۱۳۹۱/۳/۱۳نېټي (۳۷) ګڼې مصوبې د توشېح په هکله، دافغانستان داسلامي جمهوريت د رئيس**

**فرمان**

ګڼه: (۳۲)

نېټه: ۱۳۹۱/۳/۲۲

**لومړۍ ماده:**

د افغانستان د اساسي قانون د (۶۴) مادې د (۱۲) فقرې د حکم له مخې، د ملي شوري د ۱۳۹۱/۳/۱۳نېټي (۳۷) ګڼه مصوبه چې د هغه پـر موجـب قـضاوتپوه دوکتـور عبدالمالک کاموي د (۱۲۷) رايو په ترلاسه کولو سره د سترې محکمې د عالي شوري د غړي په توګه تأييد شوی دی، توشېح کوم.

**دوه يمه ماده:**

دغه فرمان د ملي شوري د ولسي جرګې له مصوبې سره يو ځای دې، په رسمي جريده کې خپور شي.

**حامد کرزی**

**د افغانستان د اسلامي جمهوريت رئيس**

**جمهوری اسلامی افغانستان**

**فرمان**

**رئيس جمهوری اسلامی افغانستان در مورد توشيح مصوبۀ شماره (۳۷) مؤرخ ۱۳۹۱/۳/۱۳ ولسی جرگه شورای ملی**

شماره: (۳۲)

تاريخ: ۱۳۹۱/۳/۲۲

**مادۀ اول:**

به تأسی از حکم فقرۀ (۱۲) مـادۀ (۶۴) قانون اساسی افغانستان، مصوبۀ شماره (۳۷) مؤرخ ۱۳۹۱/۳/۱۳ شورای ملی را که، به موجب آن قضاوتپوه دوکتور عبدالمالک کاموی با کسب (۱۲۷) رأی به حيث عضو شورای عالی ستره محکمه تأييد گرديـده است، توشيح می دارم.

**مادۀ دوم:**

اين فرمان همراه با مصوبۀ ولـسی جرگـه شورای ملـی در جريـدۀ رسـمی نـشر گردد.

**حامد کرزی**

**رئيس جمهوری اسلامی افغانستان**

د افغانستان اسلامي جمهوريت

ملي شوري

ولسي جرگه

د سترې محکمې د عالي شوري د

دوو تنو نوماندو غړو د اعتماد د رايې

مصوبه

پرله پسې گڼه: (۳۷)

د تصويب نېټه: ۱۳۹۱/۳/۱۳

د افغانستان د اساسي قانون د (۶۴) مادې (۱۲) فقرې د حکم پربنسټ، ولسي جرگې د خپل د ۱۳۹۱کال د غبرگولې د مياشتې د ۱۳ نېټې د شنبې ورځې په عمومي غونډه کې د (۲۰۹) تنو حاضرو غړو په نصاب سره چې د سترې محکمې د عالي شوري دوو تنو نوماندو غړو ته د اعتماد د رايې په اړه چې د افغانستان د اسلامي جمهوريت جلالتمآب جمهور رئيس لخوا د هغه د ۱۳۹۱/۲/۲۳نېټې د (۱۱۵۱) گڼه حکم په لړکې، په پارلماني چاروکې د دولت د بناغلی وزير په واسطه د ۱۳۹۱/۳/۱۰نېټې د چهارشنبې په ورځ غونډې ته معرفي شوي وو، په

جمهوری اسلامی افغانستان

شورای ملی

ولسی جرگه

مصوبهٔ

رای اعتماد به دو تن از کاندیدان

اعضای شورای عالی ستره محکمه

شماره مسلسل: (۳۷)

تاریخ تصویب: ۱۳۹۱/۳/۱۳

به اساس حکم فقرهٔ (۱۲) مادهٔ (۶۴) قانون اساسی افغانستان، ولسی جرگه با نصاب (۲۰۹) تن اعضای حاضر در جلسهٔ عمومی روز شنبه مؤرخ ۱۳ ماه جوزا سال ۱۳۹۱ خویش که در رابطه به رای اعتماد به دوتن از کاندیدان اعضای شورای عالی ستره محکمه که از جانب جلالتمآب رئیس جمهور جمهوری ا سلامی افغانستان طی حکم شماره (۱۱۵۱) مؤرخ ۱۳۹۱/۲/۲۳ شان توسط محترم وزیر دولت در امور پارلمانی روز چهار شنبه مؤرخ ۱۳۹۱/۳/۱۰ به مجلس معرفی گردیده بود ذیلاً

لاندې توګه تصويب کړ:

۱- ښاغلی قضاوتپوه دوکتور عبدالمالک کاموي د سترې محکمې د عالي شوري نوماند د (۱۲۷) تأييد رايو په ترلاسه کولو بريالی.

۲- ښاغلی قانونپوه سرور دانش د سترې محکمې د عالي شوري نوماند د (۸۲) تأييد رايو په ترلاسه کولو نه بريالی.

د ولسي جرګې د عمومي غونډې د تصويب ډول په پورته توګه ارقام دی.

عبدالرووف "ابراهيمي"

د ولسي جرګې رئيس

تصويب نمود:

۱- محترم قضاوتپوه دوکتور عبدالمالک کاموی نامزد شورای عالی ستره محکمه با کسب (۱۲۷) رای تأیید موفق.

۲- محترم قانونپوه سرور دانش نامزد شورای عالی ستره محکمه با کسب (۸۲) رای تأیید ناموفق.

صورت تصویب مجلس عمومی ولسی جرگه فوقاً ارقام است.

عبدالرووف «ابراهیمی»

رئیس ولسی جرگه

**د مسکراتو او مخدرو توکو پرعليه د مبارزې او کنترول د قانون د (٦۳) مادې د (۳) فقرې تعديل د توشېح په هکله، د افغانستان اسلامي جمهوريت د رئيس فرمان**

ګڼه: (۳۵)

نېټه: ۱۳۹۱/۳/۲۸

**لومړۍ ماده:**

د افغانستان د اساسي قانون د (٦۴) مادې د (۱٦) فقرې د حکم له مخې، د مسکراتو او مخدرو توکو پرعليه د مبارزې او کنترول د قانون د (٦۳) مادې (۳) فقرې تعديل چې د ملي شورې د ولسي جرګې د ۱۳/ ۳/ ۱۳۹۱ نېټې (۳۹) ګڼې او د مشرانو جرګې د ۱۵/ ۳/ ۱۳۹۱ نېټې (۳۵) ګڼې مصوبو پر بنسټ تصويب شوی، توشېح کوم.

**دوه يمه ماده:**

دغه فرمان دتوشېح له نېټې څخه نافذ اودملي شوري دمجلسينو له مصوبو او تعديل سره يو ځای دې، په رسمي جريده کې خپور شي.

**حامد کرزی**

**د افغانستان د اسلامي جمهوريت رئيس**

**فرمان**
**رئيس جمهوری اسلامی افغانستان**
**در مورد توشيح تعديل فقره (۳) مادۀ (٦۳) قانون مبارزه عليه مسکرات و مواد مخدر و کنترول آن**

شماره:(۳۵)

تاريخ:۱۳۹۱/۳/۲۸

**مادۀ اول:**

به تأسی از حکم فقرۀ (۱٦) مادۀ (٦۴) قانون اساسی افغانستان، تعديل فقرۀ (۳) مادۀ (٦۳) قانون مبارزه عليه مسکرات و مواد مخدر و کنترول آن را که بر اساس مصوبات شماره (۳۹) مؤرخ ۱۳۹۱/۳/۱۳ ولسی جرگه و شماره (۳۵) مؤرخ ۱۳۹۱/۳/۱۵ مشرانو جرگه شورای ملی به تصويب رسيده، توشيح می دارم.

**مادۀ دوم:**

اين فرمان از تاريخ توشيح نافذ و همراه با مصوبات مجلسين شورای ملی و تعديل در جريدۀ رسمی نشر گردد.

**حامد کرزی**

**رئيس جمهوری اسلامی افغانستان**

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت

ملي شوري

ولسي جرگه

د نشه يي توکو او مسکراتو او د هغو

د کنترول پر وړاندې د مبارزې د

قانون د دري شپېتمې مادې د درېيمې

فقرې تعديل په هکله،

مصوبه

گڼه: (۳۹)

نېټه: ۱۳۹۱/۳/۱۳

ولسي جرگې د افغانستان د اساسي قانون د نوي يمې مادې له حکم سره سم، د ۱۳۹۱ کال دغبرگولي د مياشتې د ۱۳ نېټې دشنبې ورځې په عمومي غونډه کې د نشه يي توکو او مسکراتو او د هغو د کنترول پر وړاندې د مبارزې د قانون د دري شپېتمې مادې د درېيمې فقرې تعديل تصويب کړ.

عبدالرووف "ابراهيمي"

د ولسي جرگې رئيس

دولت جمهوری اسلامی افغانستان

شورای ملی

ولسی جرگه

مصوبه

در مورد تعديل فقرۀ سوم مادۀ

شصت وسوم قانون مبارزه

عليه مسكرات و مواد مخدر

وكنترول آن

شماره: (۳۹)

تاريخ: ۱۳۹۱/۳/۱۳

به تأسی از حکم مادۀ نودم قانون اساسی افغانستان، ولسی جرگه طی جلسۀ عمومی روز شنبه مؤرخ ۱۳ ماه جوزا سال ۱۳۹۱ خويش تعديل فقرۀ سوم مادۀ شصت وسوم قانون مبارزه عليه مسکرات و مواد مخدر و کنترول آن را به تصويب رسانيد.

عبدالرووف "ابراهيمی"

رئيس ولسی جرگه

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت

ملي شوري

مشرانو جرګه

د نشه يي توکو او مسکراتو او د هغو

د کنترول پر وړاندې د مبارزې

د قانون د درې شپېتمې مادې د

درېيمې فقرې تعديل په اړه

مصوبه

ګڼه: (۳۵)

نېټه: ۱۳۹۱/۳/۱۵

د اساسي قانون د نوي يمې مادې د حکم سره سم، مشرانوجرګه د ۱۵/ ۳/ ۱۳۹۱ نېټې په عمومي غونډه کې د نشه يي توکو او مسکراتو او د هغو د کنترول پر وړاندې د مبارزې د قانون د درې شپېتمې مادې د درېيمې فقرې تعديل تصويب کړ.

فضل هادي "مسلميار"

د مشرانو جرګې رئيس

دولت جمهوری اسلامی افغانستان

شورای ملی

مشرانو جرگه

مصوبه

در مورد تعديل فقرۀ سوم مادۀ

شصت وسوم قانون مبارزه عليه

مسکرات و مواد مخدر و

کنترول آن

شماره: (۳۵)

تاريخ: ۱۳۹۱/۳/۱۵

به تأسی از حکم مادۀ نودم قانون اساسی جمهوری اسلامی افغانستان مشرانو جرگه در جلسۀ عمومی مؤرخ ۱۳۹۱/۳/۱۵ تعديل فقرۀ سوم مادۀ شصت وسوم قانون مبارزه عليه مسکرات و مواد مخدر و کنترول آن را تصويب نمود.

فضل هادی "مسلميار"

رئيس مشرانوجرگه

## د نشه يي توکو او مسکراتو او د هغو د کنترول پر وړاندې د مبارزې د قانون د دري شپيتمې مادې د دريمې فقرې تعديل

**لومړۍ ماده:**

د نشه يي توکو او مسکراتو او د هغو د کنترول پر وړاندې د مبارزې د قانون د دري شپيتمې مادې د دريمې فقرې چې د ۲۴/ ۳/ ۱۳۸۹ نېټې په (۱۰۲۵) شميره رسمي جريده کې خپره شوې، په لاندې متن دې تعديل شي:

(۳) هغه کسان چې د مسکراتو او مخدرو موادو په ځانګړې محکمه کې محاکمه کېږي، د محبسونو او توقيف ځايونو د قانون د (۲۰ او ۲۱) مادې د حکمونو له مخې د بندي او يا بنديانو د غوښتنې په صورت کې خپل اړوند ولايت ته لېږدول کېږي.

**دوه يمه ماده:**

دغه تعديل د توشيح له نېټې څخه نافذ او په رسمي جريده کې دې خپور شي.

## تعديل فقرۀ سوم مادۀ شصت وسوم قانون مبارزه عليه مسکرات و مواد مخدر و کنترول آن

**مادۀ اول:**

فقرۀ سوم مادۀ شصت وسوم قانون مبارزه عليه مسکرات و مواد مخدر و کنترول آن منتشرۀ جريدۀ رسمی شماره (۱۰۲۵) مؤرخ ۱۳۸۹/۳/۲۴ به متن ذيل تعديل گردد:

(۳) اشخاص که در محکمۀ خاص مسکرات و مواد مخدر محاکمه می گردد، مطابق احکام مادۀ (۲۰ و ۲۱) قانون محابس و توقيف خانه ها در صورت تقاضای محبوس و يا محبوسين به ولايت مربوطه انتقال می گردد.

**مادۀ دوم:**

اين تعديل از تاريخ توشيح نافذ و در جريدۀ رسمی نشر گردد.

**د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکزونو د قانون د (١٦) مادې د (١) فقرې د بیا تعدیل د توشېح په هکله،**

**د افغانستان د اسلامي جمهوریت د رئیس فرمان**

ګڼه: (۵۸)

نېټه: ۱۳۹۱/٦/٦

**لومړۍ ماده:**

د افغانستان د اساسي قانون د (۶٤) مادې د (١٦) فقرې دحکم له مخې، داطفالو د اصلاح او روزنې د مرکزونو دقانون د (١٦) مادې د(١) فقرې بیا تعدیل چې دملي شوري دولسي جرګې د ۱۳۹۱/۳/۱نېټې (۴۲) ګڼې او دمشرانو جرګې د ۱۳۹۱/۵/۹نېټې (۳۸) ګڼې مصوبو پربنسټ، تصویب شوی دی، توشېح کوم.

**دوه یمه ماده:**

دغه فرمان دتوشېح له نېټې څخه نافذ او د ملي شوري دمجلسینو له مصوبو او تعدیل سره یوځای دې، په رسمي جریده کې خپور شي.

**حامد کرزی**

**د افغانستان د اسلامي جمهوریت رئیس**

**فرمان**

**رئیس جمهوری اسلامی افغانستان**

**در مورد توشیح، تعدیل مجدد فقرهٔ (١) مادهٔ (١٦) قانون مراکز اصلاح و تربیت اطفال**

شماره: (۵۸)

تاریخ: ۱۳۹۱/٦/٦

**مادهٔ اول:**

به تأسی از حکم فقرهٔ (١٦) مادهٔ (٦۴) قانون اساسی افغانستان، تعدیل مجدد فقرهٔ (١) مادهٔ (١٦) قانون مراکز اصلاح و تربیت اطفال را که براساس مصوبات شماره (۴۲) مؤرخ ۱۳۹۱/۳/۱ ولسی جرگه و شماره (۳۸) مؤرخ ۱۳۹۱/۵/۹ مشرانو جرگه شورای ملی تصویب گردیده است، توشیح می دارم.

**مادهٔ دوم:**

این فرمان از تاریخ توشیح نافذ و همراه با مصوبات مجلسین شورای ملی و تعدیل درجریدهٔ رسمی نشر گردد.

**حامد کرزی**

**رئیس جمهوری اسلامی افغانستان**

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت

ملي شورئ

ولسي جرګه

مصوبه

د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکزونو دقانون د شپاړسمې مادې د (۱) فقرې بیا تعدیل

ګڼه: (۴۲)

نېټه: ۱/ ۳/ ۱۳۹۱

د افغانستان د اساسي قانون د نوي یمې مادې له حکم سره سم، ولسي جرګې د ۱۳۹۱ کال د غبرګولي د میاشتې د لومړۍ نېټې د دوشنبې ورځ په عمومي غونډه کې د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکزونو د قانون د شپاړسمې مادې د (۱) فقرې بیا تعدیل تصویب کړ.

عبدالرووف "ابراهیمي"

د ولسي جرګې رئیس

دولت جمهوری اسلامی افغانستان

شورای ملی

ولسی جرگه

مصوبۀ

تعدیل مجدد فقرۀ (۱) مادۀ شانزدهم قانون مراکز اصلاح و تربیت اطفال

شماره: (۴۲)

تاریخ: ۱۳۹۱/۳/۱

به تأسی از حکم مادۀ نودم قانون اساسی افغانستان، ولسی جرگه طی جلسۀ عمومی روز دوشنبه مؤرخ اول ماه جوزا سال ۱۳۹۱ خویش تعدیل مجدد فقرۀ (۱) مادۀ شانزدهم قانون مراکز اصلاح و تربیت اطفال را به تصویب رسانید.

عبدالرووف "ابراهیمی"

رئیس ولسی جرگه

**دافغانستان اسلامي جمهوري دولت**

**ملي شوريٰ**

**داطفالو د اصلاح او روزنې**

**دمركزونو د قانون دشپاړسمې**

**مادې د (۱) فقرې د**

**بيا تعديل په هكله،**

**د مشرانو جرگې مصوبه**

**گڼه: (۳۸)**

**نېټه: ۹/ ۵/ ۱۳۹۱**

**د افغانستان د اساسي قانون د نوي يمې مادې له حكم سره سم، مشرانو جرگې د ۹/ ۵/ ۱۳۹۱ نېټې په عمومي غونډه كې د اطفالو د اصلاح او روزنې د مركزونو دقانون د شپاړسمې مادې د (۱) فقرې بيا تعديل د رأيو په اكثريت تصويب كړ.**

**فضل هادي "مسلميار"**

**د مشرانو جرگې رئيس**

**دولت جمهوری اسلامی افغانستان**

**شورای ملی**

**مصوبهٔ**

**مشرانو جرگه**

**در رابطه به تعديل مجدد فقرهٔ (۱)**

**مادهٔ شانزدهم قانون مراكز اصلاح و**

**تربيت اطفال**

**شماره: (۳۸)**

**تاريخ: ۱۳۹۱/۵/۹**

**به تأسی از حكم مادهٔ نودم قانون اساسی افغانستان مشرانو جرگه در جلسهٔ عمومی ۱۳۹۱/۵/۹ تعديل مجدد فقرهٔ (۱) مادهٔ شانزدهم قانون مراكز اصلاح و تربيت اطفال را به اكثريت آراء تصويب نمود.**

**فضل هادی "مسلميار"**

**رئيس مشرانو جرگه**

**داطفالو داصلاح او روزنې دمركزونو د قانون دشپاړسمې مادې د (۱) فقرې بيا تعديل**

**لومړۍ ماده:**

د ۱۳۸۸ كال په (۱۰۱۳) ګڼه رسمي جريده كې خپورشوي داطفالو داصلاح او روزنې دمركزونو دقانون دشپاړسمې مادې (۱) فقره دې بيا په لاندې متن تعديل شي:

**شپاړسمه ماده:**

(۱) د اطفالو د اصلاح او روزنــې د مركزونو څخه امنيت د كورنيو چارو د وزارت لخوا تأمينيږي.

**دوه يمه ماده:**

دغه تعديل په رسمي جريــده كــې د خپرېدو له نېټې څخه نافذېږي.

**تعديل مجدد فقرۀ (۱) مادۀ شانزدهم قانون مراكز اصلاح و تربيت اطفال**

**مادۀ اول:**

فقرۀ (۱) مادۀ شانزدهم قانون مراكز اصلاح وتربيت اطـــفال منتـــشرۀ جريدۀ رسمى شماره (۱۰۱۳) سال ۱۳۸۸ مجدداً به متن ذيل تعــديل گردد:

**مادۀ شانزدهم:**

(۱) امنيت مراكز اصلاح وتربيــت اطفال ازطرف وزارت امورداخلــه تأمين مى گردد.

**مادۀ دوم:**

اين تعديل از تاريخ نشر در جريــدۀ رسمى نافذ مى گردد.

**د محبسونو او توقیف ځایونو د قانون د ځینو د مادو د توشېح، تعدیل په هکله، دافغانستان د اسلامي جمهوریت درئیس فرمان**

ګڼه: (۵۹)

نېټه: ٦/ ٦/ ۱۳۹۱

**لومړۍ ماده:**

د افغانستان د اساسي قانون د (٦۴) مادې د (۱٦) فقرې د حکم له مخې، د محبسونو او توقیف ځایونو د قانون د ځینو د مادو تعدیل چې د ملي شورئ ولسي جرګې ۱/ ۳/ ۱۳۹۱ نېټې (۴۱) ګڼې او د مشرانو جرګې د ۹/ ۵/ ۱۳۹۱ نېټې (۳۷) ګڼې مصوبو پر بنسټ، تصویب شوی دی، توشېح کوم.

**دوه یمه ماده:**

دغه فرمان د توشېح له نېټې څخه نافذ او د ملي شورئ د مجلسینو له مصوبو سره یو ځای دې، په رسمي جریده کې خپور شي.

**حامد کرزی**

**د افغانستان د اسلامي جمهوریت رئیس**

**فرمان رئیس جمهوری اسلامی افغانستان در مورد توشیح، تعدیل برخی از مواد قانون محابس و توقیف خانه ها**

شماره: (۵۹)

تاریخ: ۱۳۹۱/٦/٦

**مادۀ اول:**

به تأسی از حکم فقرۀ (۱٦) مادۀ (٦۴) قانون اساسی افغانستان، تعدیل برخی از مواد قانون محابس و توقیف خانه ها را که بر اساس مصوبات شماره (۴۱) مؤرخ ۱۳۹۱/۳/۱ ولسی جرگه و شماره (۳۷) مؤرخ ۱۳۹۱/۵/۹ مشرانو جرگه شورای ملی تصویب گردیده است، توشیح می دارم.

**مادۀ دوم:**

این فرمان از تاریخ توشیح نافذ و همراه با مصوبات مجلسین شورای ملی و تعدیل در جریدۀ رسمی نشر گردد.

**حامد کرزی**

**رئیس جمهوری اسلامی افغانستان**

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت

ملي شوريٰ

ولسي جرګه

د محبسونو او توقيف ځايونو د قانون د ځينو مادو د تعديل په هکله، د ولسي جرګې مصوبه

ګڼه: (۴۱)

نېټه: ۱/ ۳/ ۱۳۹۱

د افغانستان د اساسي قانون د نوي يمې مادې له حکم سره سم، ولسي جرګې د ۱۳۹۱ کال د دوشنبې ورځ د غبرګولي د مياشتې د لومړۍ نېټې په خپله عمومي غونډه کې د محبسونو او توقيف ځايونو د قانون د ځينو مادو تعديل تصويب کړ.

عبدالرووف "ابراهيمي"

د ولسي جرګې رئيس

دولت جمهوری اسلامی افغانستان

شورای ملی

ولسی جرگه

مصوبهٔ ولسی جرگه در رابطه به تعديل برخی از مواد قانون محابس و توقيف خانه ها

شماره: (۴۱)

تاريخ: ۱۳۹۱/۳/۱

به تأسی از حکم مادهٔ نودم قانون اساسی افغانستان، ولسی جرگه طی جلسهٔ عمومی روز دوشنبه مؤرخ اول ماه جوزا سال ۱۳۹۱ خويش تعديل برخی از مواد قانون محابس و توقيف خانه ها را به تصويب رسانيد.

عبدالرووف "ابراهيمی"

رئيس ولسی جرگه

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت

ملي شورئ

مشرانو جرگه

د محبسونو او توقيف ځايونو د قانون

د ځينو مادو د تعديل په هکله،

د مشرانو جرگې مصوبه

گڼه: (۳۷)

نېټه: ۹/ ۵/ ۱۳۹۱

د افغانستان د اسلامي جمهوريت داساسي قانون د نوي يمې مادې له حکم سره سم، مشرانو جرگې ۹/ ۵/ ۱۳۹۱ نېټې پــه عمومي غونډه کې د محبسونو او توقيف ځايونو د قانون د ځينو مادو تعديل د رأيو په اکثريت تصويب کړ.

فضل هادي "مسلميار"

د مشرانو جرگې رئيس

دولت جمهوری اسلامی افغانستان

شورای ملی

مشرانو جرگه

مصوبۀ مشرانوجرگه

در رابطه به تعدیل برخی از مواد

قانون محابس و توقیف خانه ها

شماره: (۳۷)

تاریخ: ۱۳۹۱/۵/۹

به تأسی از حکم مادۀ نودم قانون اساسی جمهوری اسلامی افغانستان مشرانو جرگه در جلسۀ عمومی مــؤرخ ۱۳۹۱/۵/۹ تعدیل برخی از مواد قــانون محــابس و توقیف خانه ها را به اکثریت آراء تصویب نمود.

فضل هادی "مسلمیار"

رئیس مشرانو جرگه

## د محبسونو او توقيف ځايونو د قانون د ځينو مادو تعديل

لومړۍ ماده:

د ۱۳۸٦ کال په ۹۲۳ گڼه رسمي جريده کې خپور شوی د محبسونو او توقيف ځايونو قانون دې په لاندې توگه تعديل شي:

۱- د نوموړي قانون د دوه يمې مادې په (۳) فقره، د دوولسمې مادې په (۳) فقره، د پنځلسمې مادې په (۲) فقره، د اوولسمې مادې په (۲) فقره، د اتلسمې مادې په (۱) فقره، د نولسمې مادې په (۲) فقره، د درويشتمې مادې په (۲) فقره، د څلېريشتمې مادې په (۳) فقره، د دېرشمې مادې په (۱) فقره، د اته دېرشمې مادې په (۱) فقره، د څلور پنځوسمې مادې په (۲) فقره کې د (عدليې وزارت) جمله د (کورنيو چارو وزارت) په جمله.

۲- د نوموړي قانون د څلورمې مادې په (۱ او ۲) فقرو، د ديارلسمې مادې په (۱ او ۱۱) اجزاوو، د پنځلسمې مادې په

## تعديل برخی از مواد قانون محابس وتوقيف خانه ها

مادۀ اول:

قانون محابس وتوقيف خانه ها منتشرۀ جريدۀ رسمی شماره۹۲۳ سال ۱۳۸٦حسب ذيل تعديل گردد:

۱- در فقرۀ (۳)مادۀ دوم، فقرۀ (۳) مادۀ دوازدهم، فقرۀ (۲) مادۀ پانزدهم، فقرۀ(۲)مادۀ هفدهم، فقرۀ (۱)مادۀ هجدهم، فقرۀ (۲) مادۀ نزدهم، فقرۀ (۲) مادۀ بيست وسوم، فقرۀ (۳) مادۀ بيست و چهارم، فقرۀ(۱) مادۀ سی ام، فقرۀ (۱) مادۀ سی وهشتم،فقرۀ (۲)مادۀ پنجاه وچهارم قانون مذکور، جملۀ (وزارت عدليه) به جملۀ (وزارت اموداخله) .

۲- درفقره های (۱و۲)مادۀ چهارم، اجزای (۱و۱۱) مادۀ سيزدهم ، فقرۀ(۲) مادۀ پانزدهم، مادۀ

(۲) فقره، په یوویشتمې مادې، د پنځه څلوېښتمې مادې په (۱) فقره، د دوه پنځوسمې مادې په (۳ او ۴) فقرو او په درې پنځوسمه ماده کې دې د (عدلیې وزیر) جمله د (کورنیو چارو وزیر) په جمله.

۳- د نوموړي قانون د دیارلسمې مادې په (۴) جزء کې د (کورنیو چارو وزارت معین) جمله د (عدلیې وزارت معین) په جمله.

دوه یمه ماده:

دغه تعدیلونه د توشېح له نېټې څخه نافذ دي او په رسمي جریده کې دې خپاره شي.

بیست ویکم، فقرهٔ (۱) مادهٔ چهل وپنجم، فقره های (۳و۴) مادهٔ پنجاه ودوم ومادهٔ پنجاه وسوم قانون مذکور جملهٔ (وزیر عدلیه) به جملهٔ (وزیر اموره‌داخله).

۳- در جزء (۴)مادهٔ سیزدهم قانون مذکورجملهٔ (معین وزارت امورداخله) به جملهٔ (معین وزارت عدلیه).

مادهٔ دوم:

این تعدیلات از تاریخ توشیح نافذ ودر جریدهٔ رسمی نشر گردد.

**د عسکري منسوبينو د تنفيذي حبس د تېرولو د ډول د مقررې په هکله، د افغانستان اسلامي جمهوريت د وزيرانو شوري**

**مصوبه**

ګڼه: (۹)

نېټه: ۱/ ۳/ ۱۳۹۱

د عسکري منسوبينو د تنفيذي حـبس د تېرولو د څرنګوالي مقرره چې پـه (۳) فصلونو او (۸) مادو کې د افغانـستان اسلامي جمهوريت د وزيرانو شوري لخوا تصويب شوې ده، منظوروم.

دغه مصوبه له نومورې مقررې سره يـو ځای، په رسمي جريده کې دخپرېدو لـه نېټې څخه پـنځلس ورځـې وروسـته نافذېږي.

**حامد کرزی**

**دافغانستان داسلامي جمهوريت رئيس**

**مصوبۀ**

**شورای وزيران**

**جمهوری اسلامی افغانستان**

**در مورد مقررۀ طرز سپری نمودن حبس تنفيذی منسوبين عسکری**

شماره: (۹)

تاريخ: ۱۳۹۱/۳/۱

مقررۀ طرز سپری نمودن حبس تنفيذی منسوبين عسکری را که به داخـل (۳) فصل و (۸) ماده از طـرف شـورای وزيران جمهوری اسـلامی افغانـستان تصويب گرديده، منظور می دارم.

ايـن مـصوبه همـراه بـا مقـررۀ مـذکور پـانزده روز بعـد از نـشر در جريـدۀ رسـمی نافـذ می گردد.

**حامد کرزی**

**رئيس جمهوری اسلامی افغانستان**

## فهرست مندرجات

## مقررۀ طرز سپری نمودن حبس تنفیذی منسوبین عسکری

## فصل اول

## احکام عمومی


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ اول: | مبنی.................................................. | ۲۴ |
| مادۀ دوم: | سپری نمودن مدت محکومیت در قطعه........................ ... | ۲۴ |
| مادۀ سوم: | طرز سپری نمودن مدت محکومیت.............................. | ۲۵ |


## فصل دوم

## محدودیت ها


| | | |
|---|---|---|
| مادۀ چهارم: | محدودیت سربازان.......................................... | ۲۵ |
| مادۀ پنجم: | محرومیت های افسران و بریدملان................................ | ۲۶ |


## فصل سوم

## احکام متفرقه


| | | |
|---|---|---|
| مادۀ ششم: | حقوق معلولیت و شهادت........................................ | ۲۷ |
| مادۀ هفتم: | ارتکاب جرم دیگر............................................. | ۲۷ |
| مادۀ هشتم: | انفاذ........................................................ | ۲۸ |

## د عسکري منسوبينو د تنفيذي حبس د تېرولو د ډول مقرره

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

**مبني**

**لومړۍ ماده:**

دغه مقرره د عسکري جزاء د قانون د اوومې مادې د (۲) فقرې له مخې، د عسکري منسوبينو تر يوۀ کاله پورې په تنفيذي حبس د محکوميت د مودې د تېرولو په ډول پورې د اړوندو چارو د تنظيم په منظور، وضع شوېده.

**په قطعه کې د محکوميت د مودې تېرول**

**دوه يمه ماده:**

هغه عسکري منسوبين چې دوظيفوي جرم دارتکاب له امله د محکمې په قطعي حکم تريوۀ کاله پورې په تنفيذي حبس محکوم شي، په هغۀ صورت کې چې د لا ندې شرايطو لرونکي وي د خپل محکوميت موده د قطعې په دننه کې تېروي:

## مقررۀ طرزسپری نمودن حبس تنفيذی منسوبين عسکری

## فصل اول

## احکام عمومی

**مبنی**

**مادۀ اول:**

اين مقرره به تأسی از حکم فقرۀ (۲) مادۀ هفتم قانون جزای عسکری به منظورتنظيم امور مربوط به طرزسپری نمودن مدت محکوميت به حبس تنفيذی الی يکسال منسوبين عسکری وضع گرديده است.

**سپری نمودن مدت محکوميت در قطعه**

**مادۀ دوم:**

منسوبين عسکری که به اثرارتکاب جرم وظيفوی به حکم قطعی محکمه به حبس تنفيذی الی يکسال محکوم گردند، در صورتی که واجد شرايط ذيل باشند مدت محکوميت خويش را درداخل قطعه سپری می نمايند:

۱- په مخدرو موادو روږدي نه وي.
۲- د نېک سلوک لرونکي وي.
۳- د مخه د بل جرم په ارتکاب له يوۀ کاله څخه د زيات حبس په مجازاتو محکوم شوي نه وي.

## د محکوميت د مودې د تېرولو ډول

**درېيمه ماده:**

ددې مقررې په دوه يمه ماده کې درج شوي محکومين، د محکوميت د مودې د تېرولو په وخت کې، د نورو عسکري منسوبينو په شان د سپارل شوو دندو په سرته رسولو مکلف دي.

## دوه يم فصل

## محدوديتونه

### د سرتېرو محدوديت

**څلورمه ماده:**

که چېرې محکوم سرتېرى وي، په قطعه کې د محکوميت د مودې د تېرولو په وخت کې، د لاندې محدوديتونو تابع ګرځي:

۱- له (۵۰) سلنې معاش څخه محروميت.

۱- معتاد به مواد مخدرنباشند.
۲- دارای سلوک نیک باشند.
۳- قبلاً به ارتکاب جرم دیگری به مجازات حبس بیش ازیکسال محکوم نگردیده باشند.

## طرز سپری نمودن مدت محکومیت

**مادۀ سوم:**

محکومین مندرج مادۀ دوم این مقرره درزمان سپری نمودن مدت محکومیت مانند سایر منسوبین عسکری به انجام خدمات محوله مکلف می باشند.

## فصل دوم

## محدودیت ها

### محدودیت سربازان

**مادۀ چهارم:**

هر گاه محکوم سرباز باشد، حین سپری نمودن مدت محکومیت در قطعه تابع محدودیت های ذیل می گردد:

۱- محرومیت از (۵۰) فیصد معاش.

۲- د بهرنيو ښوونيزو پروګرامونو په کورسونو کې له شاملېدو څخه محروميت.

۳- د خدمت په دوره کې د محکوميت د مودې نه محاسبه کېدل.

**د افسرانو اوبريدملانو محروميتونه**

**پنځمه ماده:**

که چېرې محکوم افسر يا بريدمل وي، په قطعه کې د محکوميت د مودې د تېرولو په وخت کې د لاندې محدوديتونو تابع ګرځي:

۱- د (۵۰) سلنې معاش له اخيستلو څخه محروميت.

۲- د نښان، مدال او نورو مادي امتيازونو له ورکولو څخه محروميت.

۳- په لالوړه دنده نه مقررېدل.

۴- د هېواد په دننه او بهر کې د ښوونيزو او لوړو زده کړو په کورسونو او پروګرامونو کې له شاملېدوڅخه محروميت.

۵- د خدمت په موده کې د حبس د مودې نه محاسبه کېدل.

۲- محروميت ازشموليت درکورس ها وپروگرام های تعليمی خارجی.

۳- عدم محاسبهٔ مدت محکوميت در دورهٔ خدمت.

**محروميت های افسران و بريدملان**

**مادهٔ پنجم:**

هر گاه محکوم افسريا بريد مل باشد حين سپری نمودن مدت محکوميت در قطعه، تابع محدود يت های ذيل می گردد:

۱- محروميت از اخذ (۵۰) فيصد معاش.

۲- محروميت ازاعطای نشان، مدال و ساير امتيازات مادی.

۳- عدم تقرر به وظيفهٔ بالاتر.

۴- محروميت از شموليت درکورس ها و پروگرام های تعليمی و تحصيلی درداخل وخارج کشور.

۵- عدم محاسبه مدت حبس دردوره خدمت.

## دریېم فصل
## متفرقه حکمونه
### د معلولیت او شهادت حقوق

**شپږمه ماده:**

که چېرې پدې مقرره کې درج شــوي محکومین، د محکومیت د مودې د تېرولو په وخت کې د دندو د اجراء په ترڅ کې معلول یا شهید شي، په خپله یا يي ورثه د قانون د حکمونو مطابق د اړوندو حقوقو او امتیازونو مستحق کېږي.

### د بل جرم ارتکاب

**اوومه ماده:**

که چېرې پدې مقرره کې درج شــوي محکومین، په قطعه کې د محکومیــت د مودې تېرولو په وخت کې د بل جــرم د ارتکاب له امله د تنفیذي حبس په جزاء محکوم شي، محبس ته لېږدول کېږي او ددمخه حبس او وروستي حبس پاتې موده په محبس کې پر هغوی باندې تطبیقېږي.

## فصل سوم
## احکام متفرقه
### حقوق معلولیت و شهادت

**مادۀ ششم:**

هرگاه محکومین مندرج این مقــرره در زمان سپری نمودن مدت محکومیت حین اجرای وظایف معلول یا شهید گردند، خود یا ورثۀ اوشان مطابق احکام قانون مستحق حقوق و امتیــازات مربــوط می گردند.

### ارتکاب جرم دیگر

**مادۀ هفتم:**

هر گاه محکومین مندرج ایــن مقــرره هنگام سپری نمودن مدت محکومیــت درقطعه به اثرارتکاب جــرم دیگــری محکوم به مجازات حبس تنفیذی گردند به محبس منتقل گردیده ومدت باقیماندۀ حبس قبلی وحبس بعدی، در محــبس بالای آنها تطبیق می گردد.

**انفاذ**

**اتمه ماده:**

**دغه مقرره په رسمي جريده کې له خپرېدو (۱۵) ورځې وروسته نافذېږي.**

**انفاذ**

**مادۀ هشتم:**

**این مقرره (۱۵) روز بعـــد ازنـــشر در جريدۀ رسمی نافذ می گردد.**

## د شپې لوړو زده کړو د مقررې په پنځلسمه ماده کې د تعديل او ايزاد د انفاذ په هکله، د افغانستان اسلامي جمهوريت د وزيرانو شورې مصوبه

**ګڼه: (۲۱)**

**نېټه: ۱٦/ ۵/ ۱۳۹۱**

**لومړۍ ماده:**

د۱٦/۹/۱۳۹۰ نېټې په (۱۰٦٦)ګڼه رسمي جريده کې خپره شوې د شپې لوړو زده کړو د مقررې په پنځلسمه ماده کې تعـــديل او ايزاد چې د افغانستان اسلامي جمهوريـــت دوزيرانو شورې د۱٦/ ۵/ ۱۳۹۱ نېټې په غونډه کې تصويب شوي دي، منظوروم.

**دوه يمه ماده:**

دغه مصوبه له تعديل او ايزاد سره يو ځای د تصويب له نېټې څخه نافذه او پــه رسـمي جريده کې دې، خپره شي.

**حامد کرزی**

**دافغانستان داسلامي جمهوريت رئيس**

## مصوبۀ شورای وزیران جمهوری اسلامی افغانستان در مورد انفاذ تعدیل و ایزاد در مادۀ پانزدهم مقررۀ تحصیلات عالی شبانه

**شماره: (۲۱)**

**تاریخ: ۱۳۹۱/۵/۱٦**

**مادۀ اول:**

تعدیل و ایزاد در مـــادۀ پـــانزدهم مقـــررۀ تحصیلات عالی شبانه منتشرۀ جریدۀ رسمی شماره (۱۰٦٦) مؤرخ ۱۳۹۰/۹/۱٦ را که در جلسۀ مؤرخ ۱۳۹۱/۵/۱٦ شورای وزیران جمهوری اسلامی افغانستان تصویب گردیده است، منظور می دارم.

**مادۀ دوم:**

این مصوبه همراه بـــا تعـــدیل و ایـــزاد از تاریخ تصویب نافذ و در جریدۀ رسمی نشر گردد.

**حامد کرزی**

**رئیس جمهوری اسلامی افغانستان**

## د شپې لوړو زده کړو د مقررې په پنځلسمه ماده کې تعديل او ايزاد

**لومړۍ ماده:**

د ۱۳۹۰کال په (۱۰۶۶) ګڼه رسمي جريده کې خپره شوې د شپې لوړو زده کړو د مقررې د پنځلسمې مادې دوه يمه او درېيمه فقره دې، په لاندې متن تعديل شي:

(۲) د يوه تحصيلي سمستر حق الاجرت (فيس) د رشتې له توپير پرته، درې زره (۳۰۰۰)افغانۍ دی.

(۳) له محصل څخه د تحصيل د دورې په پيل کې يوازې د يو ځل لپاره دوه زره (۲۰۰۰)افغانۍ حق الشمول (داخله) اخيستل کېږي.

**دوه يمه ماده:**

لاندې متن دې د شپې لوړو زده کړو د مقررې د پنځلسمې مادې د (۴) فقرې په توګه ايزاد اودهغه (۴) فقره دې، په ترتيب سره د (۵) فقرې په توګه تصحيح شي:

## تعديل وايزاد درمادۀ پانزدهم مقررۀ تحصيلات عالی شبانه

**مادۀ اول:**

فقرۀ دوم و سوم مادۀ پانزدهم مقررۀ تحصيلات عالی شبانه منتشرۀ جريدۀ رسمی شماره (۱۰۶۶) سال ۱۳۹۰به متن ذيل تعديل گردد:

(۲) حق الاجرت (فيس) تحصيلی يک سمستر بدون درنظرداشت رشته، مبلغ سه هزار (۳۰۰۰) افغانی می باشد.

(۳) حق الشمول (داخله) مبلغ دوهزار(۲۰۰۰) افغانی صرف برای يک بار در شروع دورۀ تحصيل از محصل اخذ می گردد.

**مادۀ دوم:**

متن ذيل به حيث فقرۀ (۴) در مادۀ پانزدهم مقررۀ تحصيلات عالی شبانه ايزاد و فقرۀ (۴) آن بالترتيب به حيث فقرۀ (۵) تصحيح گردد:

(۴) د دولت د کارکوونکو لپاره د اړوندې ادارې د تصديق په وړاندې کولو سره د يو سمستر تحصيلي حق الاجرت (فيس) يوزر او پنځه سوه (۱۵۰۰)افغانۍ او حق الشمول (داخله) زر (۱۰۰۰) افغانۍ دی.

(۵) ددې مادې په (۲، ۳، او ۴) فقرو کې درج شوي مبالغ، د دولت د ورداتو په حساب بانک ته تحويلېږي.

دريمه ماده:

دغه تعديل او ايزاد د تصويب له نېټې څخه نافذ او په رسمي جريده کې دې خپور شي.

(۴) برای کارکنان دولت با ارایهٔ تصديق ادارهٔ مربوط حق الاجرت (فيس ) تحصيلی يک سمستر مبلغ يک هزار وپنجصد (۱۵۰۰) افغانی وحق الشمول (داخله) مبلغ يک هزار (۱۰۰۰) افغانی می باشد.

(۵) مبالغ مندرج فقره های (۲،۳و۴) اين ماده به حساب واردات دولت تحويل بانک می گردد.

مادهٔ سوم:

اين تعديل وايزاد از تاريخ تصويب نافذ و در جريدهٔ رسمی نشر گردد.

## اشتراک سالانه :

در مرکز وولایات : (۹۰۰) افغـــــــانی

برای مامورین دولت : با (۲۵) فیصد تخفیف

برای متعلمـــین ومحصلین با ارائه تصدیق ،نصف قیمت

برای کتاب فروشی ها با ۱۰ فیصد تخفیف از قیمت روی

خارج از کشور : (۲۰۰) دالر امریکائی .

ISLAMIC REPUBLIC

OF

AFGHANISTAN

MINISTRY OF JUSTICE

# OFFICIAL

# GAZETTE

- **Decrees of the President of Islamic Republic of Afghanistan**
- **Regulation on the Procedure of Spending time during the Custodial Imprisonment for Military Personnel**
- **Amendment and Addition to The Article Fifteen of Regulation on Higher Eduction Evening Shift**

**Date: ١ st SEPTEMBER .٢٠١٢**

**ISSUE NO :(١٠٨٦)**